د پورتال هوادار- قندهار
۲۴ جون ۲۰۲٤

## هم يې حج وکړ، هم به فتوا راوړي!

## د طالبانو د "خليفه" او "اميرالمومنين" جګړه

افغانيه ــ د طالبانو له منځه يوې کره سرچينې د ملا هيبت‌الله اخندزاده د دې تصميم چې له سعودي عربستان سره به په يوه ورځ اختر نه کوي، اصلي دليل او انګيزه شريکه کړې ده.

د سرچينې په حواله، "اماراتو ته د سراج‌الدين حقاني او عبدالحق وثيق سفر او بيا هلته ورسره د يو رئيس جمهور په کچه ليده کاته، او په همدغه پروتوکول سعودي ته د حج لپاره تلل، د هيبت‌الله اخندزاده نږدې حلقه ورخطا کړې ده."

سرچينه زياتوي، "د حج په مراسمو کې د طالبانو قاضي القضات شيخ مولوي عبدالحکيم حقاني هم حضور درلود چې د مقام او منزلت له پلوه تر ملا هيبت‌الله وروسته ځان دويم کس بولي. هغه چې کله د سعودي چارواکو له لوري سراج‌الدين حقاني ته دا توجه او پروتوکول ورکول وليدل، نو [د سراج‌الدين حقاني] پر وړاندې يې ځان ډېر وړوکی احساس کړ."

سرچينه وايي، "په کندهار کې د ملا هيبت‌الله حلقه چې له دې ملاقاتونو او پروتوکول خبر شول نو د دې لپاره چې د سعودي او عربي هېوادونو مشرانو ته وښيي چې اصلي تصميم‌نيونکی په کابل کې سراج‌الدين حقاني نه، بلکې په کندهار کې ملا هيبت‌الله دی، نو يې د عرف خلاف پرېکړه وکړه چې اختر يو ورځ شاته کړي او پدې توګه بهرنيانو ته خپل زور وښيي".

د ۲۰۲۱ د اګست له ۱۵مې راپدېخوا چې طالبان بياځلي په کابل کې واک ته رسېدلي، د خپل‌منځي اختلافاتو اوازې او راپورونه يې خپاره شوي دي. د دوی لومړنی اختلاف چې دباندې راووت د سرپرست حکومت په تشکيل سره نه جوړېدل، چې بيا د پاکستان د استخباراتو يا ای‌ايس‌ای مشر جنرال فيض حميد په منځګړيتوب حل شو.

د طالبانو له منځه د مالوماتو ترلاسه کول او د هغې کره کول ګران کار دی. طالبان له خلکو سره معلومات نه شريکوي او يا غلط معلومات شريکوي، نو خلک مجبورېږي اوازې ومني. دا چې يوځل بيا په کابل کې د حقاني شبکې د مشر او د طالبانو د کورنيو چارو د سرپرست وزير "خليفه سراج‌الدين حقاني" او د طالبانو د مشر "امير المومنين شيخ هيبت‌الله اخندزاده" ترمنځ د شديدو اختلافاتو او حتی شخړو اوازې خپرېږي، هڅه کوو پدې ليکنه کې

ځینو نښو او شواهدو ته په کتو دا معلومات چې یوې معتبرې سرچینې له افغانیه سره شریک کړي تحلیل کړو چې څومره له واقعیت سره اړخ لګوي؟

**ځمکنی حقایق او واقعیتونه څه دي؟**

لسګونه شواهد ښیي چې په کندهار کې د ملا هیبت‌الله اخندزاده حلقې او د طالبانو د کابل اداري ترمنځ سیاسي، اقتصادي او پوځي انډول ورځ تر بلې د کابل په ګټه درنېږي.

د اختلاف او شخړې اصلي ماجرا د واک پر وېش او د قدرت پر جغرافیې دی. مالومات په ډاګه کوي چې د ملا هیبت‌الله حلقې غوسه د سراج‌الدین حقاني له سفره نه ده را پیدا شوې. د دې غوسې ریښه له ټام ویست او امریکایي پلاوي سره په دوبۍ کې د طالبانو د دفاع سرپرست وزیر ملا یعقوب مجاهد او د استخباراتو د مرستیال ملا تاجمیر جواد د ګډ ملاقات څخه وروسته زور اخیستی او د سراج‌الدین حقاني له سفر سره اوج ته رسیدلې ده. کله چې ملا یعقوب او ملا تاجمیر د ټام ویست په مشرۍ له امریکایي پلاوي سره په دوبۍ کې وکتل؛ "امریکایي پلاوي ملا یعقوب ته څو وړاندیزونه وکړل" چې د هغوی په عملي کېدو سره د امارت د رسمیت پیژندنې چانس زیاتېږي او د دې امکان هم ډېرېږي چې د طالبانو له دفاع وزارت سره امریکا او د هغې متحدین تخنیکي او مالي همکاري زیاته کړي. له دغه ملاقات وروسته باګرام هوایي ډګر ته د یو امریکایي تخنیکي ټیم د راتګ خبرونه هم خپاره شول چې ظاهراً یې هدف د جمهوریت نه د پاتې وسایلو ترمیم او سروې وه خو کارپوهان دا د دوحې د پټو ضمایمو برخه بولي، چې له مخې یې "د افغانستان اسلامي امارت چې امریکا یې د دولت په توګه په رسمیت نه پیژني" او د طالبانو په نوم یې پیژني مکلف بولي چې د افغانستان له جغرافیې څخه د کوم تهدید پر مهال د ترهګرۍ ضد (CT) په نوم د امریکا د تروریزم ضد عملیاتو سره همکاري وکړي.

د دوبۍ په ناسته کې د ملا یعقوب او ملا تاجمیر څخه د امریکایي پلاوی لومړنی غوښتنه دا وه چې کابل باید په حکومتي، اجرایي او ورځنیو چارو کې بشپړ واک او صلاحیت ولري. ملا هیبت‌الله اخندزاده باید په کندهار کې د امارت د یو دیني زعیم په توګه مطرح وي او یوازې د دیني مسایلو مشري وکړي او په حکومتي او اجرایي چارو کې واک ونلري.

دویم، دغه د دیني زعامت مرجع هم باید یوازې یو فرد او ملا هیبت‌الله نه وي، باید یوه شورا جوړه شي؛ داسې یوه شورا چې لږ تر لږه نهه غړي ولري او په راس کې یې ملا هیبت‌الله وي او بیا د هېواد دیني چارې ددغې شورا په سلا مشورې مدیریت شي.

د یادونې وړ ده چې د طالبانو لومړني مشر "امیرالمومنین ملا محمد عمر مجاهد" دغسې یوه شورا درلوده چې شاوخوا پنځه غړي یې درلودل او په وروستیو کې یې د طالبانو د هغه وخت د بهرنیو چارو وزیر مولوي وکیل احمد متوکل هم یو غړی و؛ "خو هیبت الله یې د خپل سلف خلاف په یوازې سر ډنګوي".

کله چې "ملا یعقوب او ملا تاجمیر لدې سفر څخه را ستنیږي" او دغه راپور کندهار ته مخابره کوي، له هغې ورځې د ملا هیبت‌الله او نږدې حلقې غوسه را پاریږي او ورځ تر بلې خپله متشدده څېره ښکاروي.

دا چې ملا هیبت‌الله د بهرنیانو او په کابل کې د وزیرانو پر وړاندې مقاومت وښیي نو په صراحت یې ټولو کابل میشتو طالبانو ته حکم کړی چې راتلونکې کې له داسې وړاندیزونو سره رانشي چې په هغه کې د بهرنیانو فرمایشات شامل وي. او ټولو ته یې سپارښتنه کړې ده چې د بهرنیانو دغسې وړاندیزونه نه یوازې بدرګه نه کړي بلکې باید په کلکه ورسره مخالفت وکړي.

په ورته مهال کې د ملا هیبت‌الله اخندزاده اصلي وېره او اندېښنه د طالبانو په مشرتابه کې فکري او سلیقه‌یي بدلون ته ده. اکثره طالب مشران په کندهار کې تر "امیر" او تر هغه راتاور حلقې څخه زیات د امریکا او نړۍ د جلب توجه په لټه کې دي، تر کندهاري شیخانو د امریکا او نورو غربي مشرانو ملاقاتونو ته خوشحاله کېږي. ملا هیبت‌الله اخندزاده او د هغه د حلقې اندېښنه هغه وخت لا زیاته شوه چې کابل ته په وروستي سفر کې یې دولتي ادارې او حکومتي مسوولین ولیدل او واورېدل.

## نامتوازن واک: کمزوری کندهار، زورور کابل

د ټولو هغو اوازو برعکس چې ګڼي د قدرت اصلي مرکز کندهار دی، کابل ورځ تر بلې له اقتصادي، سیاسي او پوځي پلوه قوي کېږي او قوي دی.

لومړی دا چې کابل پایتخت دی. د کندهار په پرتله یې امکانات ډېر زیات دي. هر یو وزیر یې لکه د دفاع وزیر، مالیې وزیر او داخله وزیر په یوازې ځان تر کندهاره ډېر امکانات لري.

له سیاسی پلوه کابل ډېر لوی ستیج لري. ټول بهرني سفیران او استازي له دغو وزیرانو او طالب مسوولینو منظمې ناستې، میلمستیاوې او لیدنې لري. له اقتصادی نظره ځینی پټ او غیر مشهور سوداګر په کابل کې میشت دي او خپل سوداګریز مرکزونه لري. هر یو یې لسګونه میلیونه ډالره پانګه او کاروبار لري. دا ټول امکانات په کندهار کې نشته. د بېلګې په توګه، د کام ایر شرکت مشر زمری کامګار شاوخوا دولس الوتکې لري، چې هر وزیر په بیه اخلي. د تیلو ستر شرکت احمدیار ګروپ د میلونونو ډالرو سوداګري لري او لا یې هم کاروبار روان دی. د افغانستان نړیوال بانک مالک حاجي ابراهیم محب چې درې ملیارده ډالره د ده د بانک له طریقه افغانستان ته تزریق شول. د بیات بنست او مشر احسان‌الله بیات او داسي نور ... آیا دغه هر یو به د کابل طالبانو ته حق نه ورکوي؟ کندهار له دې امکاناتو او امتیازاتو څخه بې برخې دی.

دا هر څه که بهرنیان وغواړي، یا نه، او که د هیبت‌الله اخندزاده خوښه وي یا نه، کابل د کندهار په پرتله په سیاسي او اقتصادي لحاظ نه یوازې پیاوړی دی، بلکې د لا زیات قدرت امکانات یې لیدل کېږي.

دغه راز له نظامي پلوه هم کابل قوي دی ټولې مرکزي قواوې دلته دي. اجرایي او عملیاتي قوماندې دلته ده. مرکزي استخبارات دلته دي. د اوامرو د انفاذ او تعمیل تطبیقي قوه دلته ده. ځکه اوس هیبت الله غواړي ځانته د ځانګړو ځواکونو قطعات ولري. هغه څو میاشتې وړاندې په بې‌سارې کچه د خپلو لګښتونو بودیجه زیاته کړه.

## په کابل کې د هیبت‌الله اخندزاده د ځینو مهمو پرېکړو نه منل

د کابل طالبان له اخلاقي پلوه ټل دا خبره کوي چې مشر یې "امیرالمومنین" دی او هره خبره یې مني، خو ځمکني واقعیتونه بل شی دي. دلته یو شمېر هغه نموني ذکر کوو چې د دې خبرې برعکس ښیي، مګر طالبان یې نه مني.

د بېلګې په ډول، هیبت‌الله اخندزاده دوه میاشتې وړاندې امر وکړ چې ګلبدین حکمتیار ته باید جزا ورکړي. سراج‌الدین حقاني ته دنده ورکړل شوه او د استخباراتو مشر ملا عبدالحق وثیق ته وویل شول چې سملاسي یې راپور ورکړي. مګر دوی انجینر حکمتیار ته نه یوازې دا چې جزا ورنکړه بلکې کور یې ورته کرایه کړ، ساتونکې یې ورکړل او دفاع یې ورڅخه وکړه.

د کابل بله وړه بېلګه د پاسپورټ اداره ده. د محلي سرچینو په قول، هر ورځ لږ ترلږه درې تر څلور زره پاسپورټونه وېشل کېږي چې په هر پاسپورټ له پنځه سوه نیولې تر دوه زره ډالره رشوت اخیستل کېږي. دغه د میلیونونو ډالرو

دولتي خدماتو په کاروبار کي د تغيراتو او اصلاحاتو راوستلو باندي د ملا هيبت‌الله زور ونه رسېد او په کامله توګه د کابل د طالبانو تر کنټرول لاندي ده.

د کندهار د اوامرو د سرغړوني بله بېلګه همدا نږدې اماراتو او سعودي ته د سراج‌الدين حقاني او ملا عبدالحق وثيق سفر دی چي کره سرچيني وايي د هيبت‌الله اخندزاده له اجازې پرته ترسره شوی دی.

د طالبانو له داخل څخه ګڼې سرچيني دا هم تاييدوي چي ملا هيبت‌الله ځلونه د پخواني ولسمشر حامد کرزي او عبدالله عبدالله د جزايي کولو سپارښتنه کړې ده، مګر برعکس د سراج‌الدين حقاني په مشری د حقاني شبکي جنګياليو يې کلک امنيت نيولی دی. له دې ټولو ورهاخوا، ډېر نور داسي کارونه په کابل کي کېږي چي د کندهار د شريعت خلاف دي، د بېلګي په توګه د کندهار په ملي تلويزيون کي د تصوير په ځانګړي ډول د طالبانو تصويرونه خپرول منع دي، خو د کابل تلويزيون مشر چين ته سفر کوي او هلته له چينايي نجونو سره عکسونه اخلي، خو د کندهار زور پرې نه رسېږي چي اصلاح يې کړي.

## نړيوال د طالبانو تر کنټرول لاندې څنګه کابل غواړي؟

د امريکا په ګډون د سيمې اکثره هېوادونه په يوه مسئله کي سره يوه خوله دي چي لومړی په لويه کي د کندهار او کابل طالبان بېل کړي. بيا د کابل په داخل کي هم مدني او خيريه مستقل بنسټونه رامنځته کړي، خلک بېل، ملايان بېل کړي، حقانيان بېل کړي، غير حقانيان بېل کړي. د تعامل انجوګاني جوړې شي تر څو کابل په ټوليزه توګه ډېر مطرح وي او په جزيياتو کي بيا جلا جلا کرکټرونه راپورته شي چي هر يو يې په ورزش، تجارت، سياست، خيريه کارونو او نورو چارو کي يو سليبريټي وي.

ددې هدف د بريالي کولو لپاره همدا تېره مياشت له اروپا څخه يوه ډله افغانان کابل ته راغلل او دغه لړی به روانه وي، څوک به طرحي راوړي او څوک پروژې.

همدا مهال، د جاپان، چين، ايران، روسيي او عربي هېوادونو په ګډون اکثره سفيران او ديپلوماتان همدې ته کار کوي څو خلک تشخيص کړي، چانسونه ورکړي، مطرح يې کړي، او د اړيکو جال ور پراخ کړي. د ضمير کابلوف، ټام ويست او د ايران او پاکستان او اکثره استازي لګيا دي، څو اختلاف زيات کړای شي او د کابل طالب چارواکو ته اهميت ورکړي.

اوس که د پاس ذکر شوو مواردو او حقايقو په تناظر کي د سراج‌الدين حقاني سفر ته را وګرځو، پدې ټول پوه دي چي دا سفر د امريکا په خوښه شوی دی. کنه څنګه امکان لري چي يو عربي هېواد د امريکا له خوښي پرته يو طالب ته چي بنديزونه پرې لګېدلي وي په دغسي دولتي پروتوکول د سفر اجازه ورکړي او په همدې ترتيب تر سعودي عربستان ورسيږي او د موافقو او مخالفو رسنيو سرټکی شي.

د امريکا متحده ايالاتو د افغانستان پخواني جمهوريت په وخت کي لا سراج‌الدين ته دا فرصت ورکړی و چي دده په نوم مقاله يې ورته په نيويارک ټايمز کي چاپ کړه. اوس سراج‌الدين حقاني ته دغه پروتوکول او احساس ورکول کېږي چي ته نه يوازې يو قراردادي جنګيالی نه يې بلکې اوس يو وزير يې او کولای شي بهرنيو هېوادونو ته سفر وکړې او د هېوادونو له مشرانو سره وګورې او کله چي مکې ته ځې تا ته به د سعودي له خوا د طواف لپاره لکه يو دولت مشر امنيتي ګارډ درکول کېږي. ته [سراج‌الدين حقاني] په کابل کي خپله پاچاهي کوه، موږ [امريکا] چي اوسو د بل هېچا کيسه کي مه اوسه.

له دې ټولو حقايقو او پېښو سره، سراج‌الدين حقاني ته د دولت د مشر په سطحه پروتوکول ورکول پر هيبت‌الله، ملا حسن، شيخ حکيم، ملا برادر او حتا ملا يعقوب يو لوی ګوزار و. دا به په ډراماتيک ډول د طالبانو ترمنځ اختلافات روښانه، موقفونه برجسته، او تصادم چټک کړي.

خو اوس پوښتنه دا ده چې آيا ملا هيبت‌الله او حلقه به يې له سراج‌الدين حقاني سره د ټکر او په طالبانو دننه جګړې ته زړه ښه کړي؟ او آيا دا جګړه به اخندزاده ته په ګټه پرېوځي؟ د دواړو ځواب منفي برېښي، ځکه له سيمه‌ييزو جهادي او ترهګرو ګروپونو سره د حقاني شبکې نژدې اړيکې او په ورته وخت کې له سي‌آی‌اې سره استخباراتي تعلقات، سراج او شبکه په يوه پانګه بدله کړې چې د پاکستان په ګډون به يې امريکا ترڅنګ ودريږي.

له بله اړخه، سراج‌الدين حقاني چې د "خليفه" له مذهبي لقب څخه هم برخمن دی او د احتمالي مشرۍ لپاره يې د حج تر اداينې وروسته نور هم مشروعيت پيدا کړ، او د دې لپاره يې هم زمينه مساعده کړه چې هر وخت وکولای شي د خپل امير پر وړاندې د بغاوت توغ پورته کړي.